# د لویانو واکسینونه (18+ کاله)

**ولې لویان واکسین ته اړتیا لري؟**

واکسین تاسو او ستاسو شاوخوا خلکو ته دهغه جدي ناروغیو پرورړاندې محافظت چمتو کوي چې د واکسینونو په واسطه یې مخنیوی کیدای شي. هغه واکسینونه چې د ماشومتوب په جریان کې تطبیق کیږي د لویوالي پرمهال یو څه محافظت چمتو کوي، مګر بیا هم یو بشپړ ډوز (بوسټر دوز) اړین دی تر څو تاسو ته ښه محافظت درکړي.

د امیندوارۍ په جریان (په هر عمر کې) کې، واکسین تاسو او ستاسو ماشوم د جدي ناروغیو په وړاندې ساتي چې کولی شي د زیږون د نیمګړتیاوو، سقط، یا د وخت څخه مخکې زیږون لامل شي. دا مهمه ده چې د امیندوارۍ د مخه خپل معمول واکسینونه تازه یا ترلاسه کړئ (دا ټول وړاندیز شوي واکسینونه دي). د خپل روغتیایي کارمند سره خبرې وکړئ معلومه کړئ چې ایا تاسو د امیندوارۍ هڅه پیل کولو دمخه خپل واکسین تطبیق کولو ته اړتیا لرئ یا نه.

## د لویانو لپاره د کومو واکسینونه سپارښتنه کیږي؟

تطعيمات البالغين

| **واکسین** (په مقابل کې ساتنه کوي) | هر کال | هر 10 کاله | امیندواري | 50+ (also 18+ that have weakened immune system) | ٦٥+ | تاسو ې ممکن اوس لاسته راوړی، که تاسو نه وي ترلاسه کړي |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **انفلونزا** (د انفلونزا انتان) | ✓ | | ✓ | | | |
| **dTap** ډیپتیریا، تیتانوس، پرتوسس (توره ټوخله) | | ✓ | ✓ | | | |
| **شنګل** (د شینګل انتان) | | | | ✓ | | |
| ***د نیوموکوکل واکسین کول*** | | | | | ✓ | |
| **هیپاتیت بی** (د هپاتیت بی انتان) | | | | | | ✓ |
| **MMR*** شرۍ، ممپس، روبیلا. | | | | | | ✓ |
| **ویروسیلا** (چیکن پاکس) | | | | | | ✓ |
| **HPV-9** د پاپیلوما ویروس انتان | | | | | | ✓ |

| | |
|---|---|
| **کوید-۱۹** (د کوید-۱۹ ناروغي) | ستاسو د وروستي کوید-۱۹ واکسین یا کوید انتان څخه لږترلږه 3 میاشتې وروسته |

که تاسو 50 کلن یاست او د کومې عضوی انتقال مو نه وی کړي، تاسو کولی شئ دا واکسین د فیس په بدل کې ترلاسه کړئ.

که تاسو 18 کلن یاست او تاسو د عضوي لیږد ترلاسه کوئ نو تاسو کولی شئ دا واکسین وړیا ترلاسه کړئ کیدای شي ستاسو د عمر، روغتیایی وضعیت، د واکسین تاریخچې، او د کوید انتان پورې اړه ولري

د امیندوارۍ پرمهال د روبیلا واکسین **نه** ورکول کیږي. تاسو باید د دې واکسین د ترلاسه کولو وروسته ۱ میاشت انتظار وکړئ ترڅو د امیندوارۍ هڅه پیل کړئ

د امیندوارۍ پرمهال د ویروسیلا واکسین نه ورکول کیږي. تاسو باید د دې واکسین ترلاسه کولو وروسته ۱ میاشت انتظار وکړئ ترڅو د امیندوارۍ هڅه پیل کړئ

**که تاسو کومې اضافي پوښتنې لرئ یا غواړئ خپل واکسین واخلئ؟ تاسو کولی شئ:**

- د روغتیایی خدماتو ۸۱۱ شمیرې سره اړیکه ټینګه کړې.
- د نوي راغلو خلکو لپاره د څو ژبو روغتیایی مرکز ته په 1-587-392-8062 شمیرې اړیکه ټینګه کړې.
- د خپل کورنی ډاکټر یا د لومړني صحي خدماتو مرکز سره اړیکه ونیسئ.


AIMGA Alberta International Medical Graduate Association

19 TO ZERO UNITED AGAINST COVID-19

Financial contribution:

Public Health Agency of Canada / Agence de la santé publique du Canada

ACTION 4 HUMANITY DEVELOPMENT FOUNDATION CREATING BRIGHTER FUTURE